ډاکټرعبدالرحمن زماني

د ۲۰۲۰ کال د جون ۱۵مه

## د یوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کیدو د معما په هکله:
## نهمه برخه – له وزیرستان نه د ببرک خان ځدراڼ د کورنۍ وتل

### د ببرک خان ځدراڼ په کورنۍ او پلویانو د فشار زیاتوالي

د انګرېزانو او شوروي په استخباراتي رپوټونو کې د هغه وخت د کابل او وزیرستان حالاتو ښه انعکاس موندلی او په ټولو هغو فشارونو رڼا اچول شوې، کوم چې د غازي ببرک خان ځدراڼ په کورنۍ او د هغوی په پلویانو تحمیلېدل. دلته لومړی د بریتانوي هند د آرشیف څخه د انګرېزي استخباراتود پټو او محرمانه اسنادو د (L/P&S/12/3200) دوسیې څخه ځینې هغه بیلګې را نقلوم چې اوس د محرمیت نه وتلي دي:

- د ۱۹۴۵ کال د مې ۵مه او ۱۲مه نیټه: د جنوبي په ولایت کې د حالاتو انکشاف د حکومت په ګټه ؤ. د ایپي فقیر هم یوځل بیا خپل کوښښ پیل کړ تر څو زمرک خان راضي کړي چې یا خود افغان حکومت سره جوړه وکړي او یا هم د ده سره د انګرېزانو په مخالفت کې ملګرې شي. د جنوبي ولایت مقاماتو د غلجي ملنګ او زمرک خان په وړاندې خپلو تبلیغاتو ته دوام ورکړې او د ځدراڼو په کلیو یې ورقې شیندلي او ګواښ یې کړې چې که دغه دواړو کسانو سره مرسته وکړي نو د سختو عواقبو سره به مخامخ شي. دوې د ملنګ د بدنامولو دپاره دا آوازې هم ګډې کړې چې ګوندې هغه د انګریزانو په لمسه د افغانستان د حکومت په وړاندې په دسیسو بوخت دئ.

  داسې ښکاري چې د ایپي فقیر هڅې بریالۍ نه شوې تر څو زمرک خان یا افغان حکومت ته تسلیم شي او یا هم [دحکومت په خلاف د مبارزې پر ځای] د وزیرستان په جګړه کې د هغه مرسته وکړي. خو که څه ناڅه د هغه دلایل زمرک خان قانع کړي چې لږ تر لږه د جنوبي په ولایت کې تازه ستونزه جوړه نه کړي، نو دا به هم د افغان مقاماتو د پاره یوه ستره مرسته وي.

- د مې ۱۹مه او ۲۲مه نیټه: د ګردیز د ملک غلام رسول زوې، ملک سید امیر د زمرک خان سره په تماس کې دئ. هغه ددې کار لپاره د خپل ورور خاني ګل نه د قاصد په توګه کار اخلي. د منګلو یوې ډلې د زمرک خان په ملګرتیا په کڅه کې د مداخیلو د مشرانو سره لیدلي تر څو معلومه کړي چې هغوي به د زمرک خان لخوا د یوه بل پاڅون څومره ملاتړ وکړي. په خوست کې د زمرک خان په ګټه تبلیغات ډیر زیات شوي دي.

- د جون ۲مه او ۱۲مه نیټه: په دې وروستیو ورځو کې د خوست یو شمیر ملکان د کورنیو سره یوځای نیول شوي او کابل ته استول شوي دي. په دوې تور لګول شوي دئ چې د غلجي ملنګ سره په دسیسه کې شامل دي. حکومت بیا وکړای شو یو شمیر منګل ملکان د ځان سره ملګري کړي او هڅه کوي تر څو خپل کسان راضي کړي چې حکومت ته تسلیم شي. د خوست والي هم د ګوربزو ملکانو ته خبرداري ورکړې چې که د غلجیو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ملنګ ته پناه ورکړې نو کلي به يې په توپونو وويشتل شي. زمرک خان په پخه ميله کې د سليمان خيلو او تڼيو د استازو سره وکتل. تڼيو ورته وويل چې د سينکې په سيمه د حکومت تر حملې وروسته ګڼ شمير کورنۍ غرونو ته ختلي دي.

- د جون ۲۳مه نيټه: خبر ورکړ شوې چې زمرک خان د سرکوټ سيمې ته تللي او هلته يې ټوله اونۍ د تنګي د سيمې منګلو او ځدرانو سره جرګې مرکې کړي دي. شيرمحمد خان ټوله اونۍ په پخه ميله کې پاتې شوې او د هغو تڼيو سره يې خبرې کړي دي، کوم چې له پولې اوښتي او تغيکه سر، ډډم، سونخي او مداخيلو په سيمه کې ميشت شوي دي.
- د جون ديرشمه نيټه: زمرک خان د جون په ۱۷مه نيټه بيرته پخې ميلې ته راستون شو. هلته يې د چهارباغ د نقيب، شير آغا، د استازي سره وکتل. استازي وويل چې شير آغا حاضر دې د افغانستان د حکومت سره د هغه د جوړ جاړي د شرايطو په سر يو ځل بيا کوښښ وکړي. استازي بيا د ايپي د فقير او لندر د پير ليدو ته ورغي تر څو هغوې ته د شيرآغا د وروستني کوښښ په هکله د يوځاې کيدو بلنه ورکړي.

په ورته وخت کې، زمرک خان ته د تشويش وړ دا پته هم ولګيده چې د يوه پخواني فرقه مشر پت زوې د جون د اتلسمې او شلمې تر منځ د مداخيلو سيمې ته ورغلې او د فرقه مشر فيض محمد خان لخوا د يو لک روپيو انعام په بدل کې يې د ځينو بخشي خيلو په مرسته د وژلو د سيسه جوړه شوې ده.

شهباز خان، يو خوستوال ملا، چې اوس د زمرک خان سره اوسيږي، ګورويښت ته د ايپي فقير ته لاړ او له هغه يې وغوښتل چې د زمرک خان د وژلو د هڅې مخه ونيسي. هغه هم ومنله او د خپل ورور مولانا شير زمان په وسيله يې بخشي خيلو ته لارښوونه وکړه چې د زمرک خان وژل به، چې د مداخيلو همسايه دې ، د دين خلاف يو عمل وي.

- د جولاې ۷مه نيټه: زمرک خان تيره هفته په پخه ميله کې پاتې شوې دئ. د رسيدلي رپوټ له مخې هغه ته د ايران نه د بلوچستان او بنو په لاره يو ناشنا سړې راغلې، کوم چې ويل کيږي د پخواني پاچا امان الله خان خپلوان دئ. ددغه نا آشنا سړي موجوديت د جنوبي ولايت د قامونو توجه جلب کړې ده. دغه سړې شاوخوا (۳۲ ) کاله عمر لري او په انګريزي، فارسي او پښتو ژبو خبرې کوي، خو لا تر اوسه معلومه شوې نه ده چې د [پخواني پاچا غازي] امان الله خان سره به خپلوي ولري. دغه کس د ايپي د فقير ليدلو ته هم تللي و، خو ويل کيږي چې هغه ورته کوم اهميت ورکړې نه دئ.

زمرک خان په دې اونۍ کې د حربيې د وزير سردار شاه محمود خان نه يو شخصي ليک ترلاسه کړ. په ليک کې د حکومت لخوا د صلحې د يوه بل نوبت ذکر شوې او هيله ښودل شوې وه چې هغه به اوس دغه شرايط ومني.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- د جولاې ۱۴مه نیټه: جنوبي سیمه آرامه وه. زمرک خان د صلحې وروستني وړاندیز رد کړ. اکبر جان کابل خیل له کابله بیرته راستون شوې او د په نږدې راتلونکي کې به د صدراعظم د لاربښوونې سره سم د مده خیلو سره خپلې خبرې له سره پیل کړي.
- د جولاې ۲۱مه نیټه: پاچا او سپه سالار شامحموود خان په کابل کې د جنوبي سیمې د مشرانو سره وکتل او هغوې ته یې د کونړ د صافیو د پاڅون د عواملو په هکله معلومات ورکړل. د جنوبي سیمې قومي مشرانو ډاډ ورکړ چې خپل قامونه به د حکومت د مخالفت نه منع کړي. په ارګون او متون کې حکومتي چاروا کو د امان الله خان د هغه خپلوان د پېژندلو دپاره، کوم چې ویل کیږي پدې وروستیو وختو کې پخه میله کې د زمرک خان سره یوځاې شوي دئ، خاصو جاسوسانو ته وظیفه ورکړې. د دغه شخص په هکله ریپوټونه ډیر ضد او نقیض دي. ځینې وایي چې هغه په ایران کې د پخواني پاچا د میشت ورور، سردار عنایت الله خان، زوې دئ، او نورې منابع بیا هغه د زمرک خان او مده خیلو لخوا خپرې شوې تشې آوازې ګڼي.
- د اګست ۴مه نیټه: د ایپي فقیر، د انګریزانو سره د همکارۍ له امله د منظر خیلو د تهدید په مقصد، شاوخوا دري سوه کسیز لښکر راټول کړی دئ. پر سیمې د [انګریزانو لخوا] د هوایي حملې امر ورکړ شوې دئ.

پاچا او صدراعظم یو ځل بیا د کابل په جشن کې د ګډون د پاره راغلو قومي مشرانو سره کتلي او هغوې نه یې غوښتلي چې خپلو سیمو ته لاړ شي او د خپل اثر رسوخ په استعمال سره خلک رژیم سره وفادارۍ ته وهڅوي، کوم چې [ګوندي] د هیواد د پرمختګ دپاره حیاتي ارزښت لري. د همدې ریوټ له مخې، د چهار باغ نقیب، شیر آغا، د جشن نه مخکې له کتواز نه د مهمو غلزیو ملکانو سره یوځاې بیرته کابل ته راستون شوئ. هغوی د هاشم خان صدراعظم سره کتلي او د خپل قوم د وفادارۍ اطمینان یې ورکړي دئ. د مشرقي په ولایت کې د پاڅون له امله، صدراعظم د شوربازار د حضرت، تګاو ملا او چکنور ملا د زوې غلام نبي خان په ګډون د یوې جرګې په استولو غور کوي تر څو په صافیو د صلحې شرایط ومني.


L/P&S/12/3200
Previous File:
Next File:
L/PS/12/3200
EXTERNAL DEPARTMENT COLLECTION
No. 23
File 60
GENERAL HEADING
N. W. F
SUB-HEAD
Peshawar Weekly Intelligence Summaries.
No 1 of 1946.
Notes: Continued for 194?

د بریتانوي هند د استخباراتو د ریوټونو هغه دوسیه چې په دې برخه کې تري کار اخیستل شوي دئ

- د اګست د میاشتې ۱۱مه نیټه: ویل کیږي چې زمرک خان د جولای په ۲۹مه نیټه د کامراني سلیمان خیلو د یوې ډلې په ګډون کتواز ته تللی ، هغه د اګست په دویمه نیټه بیرته راستون شوې او شپه یې د ګیان ملا صوالخ داد [صالح داد؟] سره کړې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- د اګست **۲۵** مه نېټه: د جنوبي ولایت د تنظیمیي رئیس فرقه مشر محمد قاسم خان له کابل نه بیرته ګردیز ته ستون شوې دئ. هغه ته هدایت ورکړ شوي تر څو د مشرقي د سیمې د حالاتو تر سمیدو پورې د پخلاینې چلند غوره او زمرک خان ته د صلحې د نوي ترون وړاندیز وکړي.
- د **۱۹۴۵** کال د سپتمبر لومړۍ نیټه: د جنوبي په ولایت کې حالات په ظاهره آرام ښکاري، خو زمرک خان د کونړ د صافیو د جګړې د خبر په اوریدو سره د حکومت د صلحې د وروستنۍ بلنې په هکله کومه دلچسپي ښودلې نه ده. په همدې رپوټ کې راغلي چې پاچا او صدراعظم دواړو د حربیې د وزیر نه غوښتلي چې په کونړ کې په تیرو لسو ورځو کې د وضعیت د زیات خرابیدو له امله جلال آباد ته لاړ شي او د کونړ د عملیاتو اداره په خپل لاس کې واخلي. د حربیې وزیر دوي ته یادونه کړې چې د دغه کار د پاره دوي محمد داؤد جان انتخاب کړي و، او دا اوس د محمد داؤد خان وظیفه ده چې دغه عملیات په بریالیتوب سره ختم کړي. د حربیې وزیر اضافه کړې ده چې محمد داؤد خان د هغه (حربیې د وزیر) د ضمني جوړجاړي او پیسو د ورکولو پر پالیسۍ نیوکه او انتقاد کړی، کوم چې [په جنوبي کې] د یوې معقولې لارې په توګه ثرګنده شوه او څه ناخښه نتیجه یې ورکړه. 1




**د شوروي اتحاد د استخباراتي رپوټونو یو څو بیلګې**

د **۱۹۴۵** کال په لومړیو کې کابل دوسله والو پښتنو دځپلو لپاره چمتووالی نیولو. سویلي افغانستان ته نوي عسکر او د هوایي ځواک الوتکې واستول شوی. سربیره پردې ، په جلال آباد کې د**۱۹۴۵**کال د فبروري - مارچ په میاشتو کې، هاشم خان پخپله د ختیځو قومونو مشرانو سره خبرې وکړې. د هاشم خان ډیپلوماټیکې ورتیا او د پښتنو تر مینځ د ډیرو مشهورو خلکو پیرودلو هغه ته اجازه ورکړه چې وضعیت څه ناڅه نښه کړي.2

هاشم خان او د هغه "پیروان" پوهیدل چې د ځدرانو او د دوی د ملګرو قبایلو د پاڅونونو اصلي لاملونه ندي حل شوي. په دې توګه، د خوراکي توکو بې ساري کمښت د **۱۹۴۵**کال په پسرلي کې ښایي بې له شکه د کابل سره نوي وسله واله شخړه رامینځته کړي. [له همدې امله هغه غوښتل چې دا ستونزه په سوله ایزډول له منځه یوسي] خو ظاهر شاه ، د داؤد خان په

[1]. د انګریزي استخباراتو محرمانه اسناد، د بریتانوي هند آرشیف (L/P&S/12/3200).
[2]. د سامیلفسکی او اسکوایر تر منځ د کتنې د مجلس یادداشت، د **۱۹۴۴** کال د دسمبر **۲** مه نیټه. د شوروي اتحاد د خارجې سیاست آرشیف، د **۱۹۴۴** کال اسناد، **۲۲**مه خاصه دوسیه، **۲۰۸** کارتن، دوهمه برخه، **۸۲** پاڼه (د تیخانف-آرانفر ژباړې په حواله).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مشرقي د "ځوانو" سیاستوالو د یوې ډلې تر فشار لاندې زور وکا رولو. داؤد خان غوښتل چې د پښتنو د بېوزلۍ او بې وسۍ ګټه پورته کړي تر څو په لنډه وخت کې د جنوبي نه تسلیمېدونکي قومونه مرکزي حکومت ته د تابعیت سر ټیټ کړي.

هاشم خان او شاه محمود خان چې په سیاست کې د تجربې خاوندان وو، د دغه سیاست په خطر پوهېدل، خو دوي باید د پاچا امر منلي وای. په ریښتیا هم، هاشم خان چې په ټول هیواد کې د خپل لالچ، حرص او ډېر غوښتنې (وړسترګۍ) له امله شهرت درلود، د داؤد خان په وړاندې د ټینګ ودرېدو ډېر کوښښ ونه کړ. ځکه چې د چارتراشو تجارت باندې انحصار ختمول او د مالیې کمول د دغه شخصي عایداتو ته ډېر زیان رسولو.3

خو په کابل کې حکومت نور په جنوبي او مشرقي کې د پاخون د ګړندي ځپلو د پاره هیله نه درلوده. اردو د دغه کار لپاره کافي وسلې او مهمات هم نه درلودل، ځکه چې د پاخون کونکو سره جګړو کې یې له لاسه ورکړي وو. په دې بحراني حالت کې، هاشم خان هڅه وکړه چې له شوروي اتحاد او انګلستان څخه د اړتیا وړ وسلې واخلي. په مسکو کې د هاشم خان غوښتنه په مسکا سره رد شوه، که څه هم افغان لوري حتی په غنیمت نیول شوو الماني وسلو اخیستو ته چمتو و.

له بله پلوه انګلستان د بریتانوي هند او افغانستان په پوله د سولې په ټینګښت کې ګټه درلوده، نو له همدې امله د ۱۹۴۵ کال سپټمبر په ۱۳مه په انګلستان کې د جوړو شوو وسلو لومړنی جوپه ورسیده. په دې کې لس زره ټوپکې، پنځه زره ماشیندار، نهه سوه زره مرمي، پنځه ویشت توپونه، او پنځلس زره د توپونو مرمۍ شاملې وې.4

د دې وسلو په مرسته، داؤد خان وکولی شو چې د صافیو په وړاندې غښتلي جنګي عملیات له سره پیل کړي. خو دې سره سره، حتی د عصري وسلو او هوایي ځواک په درلودو هم، دولتي سرتیري په دوه میاشتو کې مخالفینو ته ماتې ورکولو کې پاتې راغلل. مشرقیوالو د جابرو ځواکونو په وړاندې سخت مقاومت وکړ. دوی نور د افغان حکومت پر ژمنو باور نه درلود او تر وروستۍ مرمي یې جګړه کوله. د ۱۸۴۵ کال په اکتوبر کې صافیو حتی د ظاهر شاه وړاندیز هم رد کړ او جګړې ته یې دوام ورکړ.

ژمی رارسیدلو او په غرونو کې د جګړې دوام دواړه پاخون کونکو او حکومتي سرتیرو لپاره ګران وو. د ۱۹۴۵ کال د اکتوبر په پای کې داؤد خان وکولی شو چې صافیو ته یو لړ ماتې ورکړي، خو هغه ونه شو کړای مقاومت مات کړي. په نتیجه کې حکومت اړ شو چې د ختیځو قومونو ټولې غوښتنې ومني. د هاشم خان حکومت د

---

3. په کابل کې د شوروي اتحاد د مېشت ایجنټ د ۸/۱۰/۱۹۴۴ نیټې رپوټ، د بهرنیو استخباراتو د ادارې آرشیف، د افغانستان د قبایلو دوسیه (۳۱۲۵۲)، ۱۳۸ پاڼه (تیخانف - د آریانفر ژباړه).

4.. په کابل کې د شوروي اتحاد د مېشت ایجنټ د ۱۳/۹/۱۹۴۵ نیټې رپوټ، د بهرنیو استخباراتو د ادارې آرشیف، د افغانستان د قبایلو د دوسیې لومړی ټوک، ۴۰۷ مخ (تیخانف - آریانفر ژباړې په حواله).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سرحدي قومونو پر وړاندې شا تګ ته مجبوره شو. د کليوالو څخه د حکومت د جبري خوړو پيرودل لغوه شول او ټولو پاڅون کونکو ته د عمومي بخښنې اعلان وشو.

د کابل د خانداني حکومت او انګرېزانو د ګډو هڅو په نتيجه کې زمرک خان هم دې ته اړ کړ شو چې د خپل تحرک نه لاس واخلي.

راتلونکو پيښو وښودله چې د خانداني حکومت مشرانو د ترخو تجربو نه زده کړه وکړه، او کړې ژمنې يې عملي کړې، د کومې په نتيجه کې چې جنوبي او مشرقي کې اوږدمهاله ثبات منځ ته راغئ. د **۱۹۴۴** او **۱۹۴۵** کال پاڅونونه د افغانستان لپاره يوه خورا جدي ازموينه وه.

تيخانف ليکې چې «تر دې دمه د دولتي عسکرو او پښتنو قومونو ترمينځ د جګړو له امله د هيواد اقتصاد ته د اوښتي زيان په اړه کوم معلومات ندي خپاره شوي. په هرصورت، په اطمينان سره ويلې شو چې پدې کلونو کې د افغانستان د دولت د عوايدو لويه برخه د زمرک خان او صافيو پرضد عملياتو کې مصرف شوه».

تيخانف زياتوي چې «هاشم خان د دغو پيښو، چې هيواد يې ولړزاوه، اصلي مجرم و. دغه سياستوال له دولسو کلونو راهيسې د افغان حکومت خپل سرې مشر و. هاشم خان، د پاچا کاکا او د شاهي کورنۍ سپين ږيري، په عمل کې د حکومت مشري کوله او ظاهرشاه مجبوره و چې دا کار وزغمي. خو په افغانستان کې، هيڅوک هم که د پښتنو قومونو د کرکې او نفرت سره مخ شي، په قدرت کې پاتې کيدای نه شي. [د ځينو نورو باندنيو عواملو په څنګ کې] هاشم خان هم د **۱۹۴۶** کال د اپريل په مياشت کې استعفا ته مجبور شو.»

**په وزيرستان کې د زمرک خان ميلمه څوک ؤ؟**

شايد ډيرو لوستونکو ته به دا پوښتنه پيدا شوې وي، چې په وزيرستان کې د زمرک خان ببرکزي کور ته هغه ميلمه چې د غازي امان الله خان د خپلولۍ ادعا يې کوله څوک او د چا لخوا استول شوې ؤ. پدې هکله د غازي ببرک خان د لمسي، قاضي محمد عمر خان ببرکزی يوه په زړه پورې خاطره لري. د هغه په وينا «څه وخت چې زمونږ کورنۍ په وزيرستان کې اوسيده يوه ورځ له هندوستان څخه يوه قاصد خبر راوړ او ويل يې چې له هندوستان څخه (سر) راځي. دا زمونږ کشرانو له پاره يوه عجيبه خبره وه ځکه چې مونږ فکر کاوه چې له تنې څخه پرته (سر) څنګه راتلای شي. نو له خپلو مشرانو څخه مو پوښتنه کوله او ويل به مو چې دا به عجيبه شانته مخلوق وي، خو هغوې به خندل او راته ويل به يې چې دا مخلوق به وګورئ.

لنډه دا چې (سر) راغې، يو ښايسته ځوان و، غټې سترګې يې درلودې، ښايسته جامې يې اغوستې او ښکلي بوټونه يې په پښو وو. له روغبړ وروسته زمونږ د کورنۍ د ميلمنو په کوټه کې پريوت. سردار صاحب (سر) نايب سالار زمرک خان او د هغه ورونو ته وويل چې زه د کابل د تاج او تخت وارث يم او د تخت د نيولو لپاره راغلې يم. او په دې مهم پروګرام کې ستاسو د کورنۍ ملاتړ غواړم. زما مشر (انګريز) زما له پاره د هر ډول مرستو، وسلو، کارتوسو او سترو سترو لښکرو د پاره تياری نيولی دئ. که په خير د کابل پادشاهي ونيول شوه او زه پاچا شوم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نو تاسو ته به هر ډول منصبونه، چوکۍ او مالي امتیازات درکړم. که نایب سالار زمرک خان او دده ورونه دا خبره ومني، نو د انګریزانو دغه مشر له ټولو امکاناتو سره راځي.

نایب سالار زمرک خان له خپلو ورونو سره مشوره وکړه او بیا یې د خپلې مشورې نتیجه (سر) ته داسې واوروله: مونږ هیڅکله د مادیاتو په بدل کې د خپلو افغانانو ورونو د مرګ ژوبلې طرفدار او پلوي نه یو. وکیل شیرمحمد خان لږ په تنده لهجه وغړید او ویې ویل: زما د پلار غازي ببرک خان ځدراڼ د ټوپک ګولۍ تر اوسه پورې د ټل د نظامي چونۍ په دیوالونو ښخې دي انګریز هیڅکله زمونږ ریښتینی دوست نه شي کیدلای، نو ته له مونږ څخه د یوې داسې مرستې تمه مه لره چې د هغې په نتیجه کې زمونږ د وطن او زمونږ د مسلمانو خلکو تباهي او بربادي رامنځ ته کیږي، نو له موږ څخه مه خپه کیږه ... دوه ورځې وروسته د مشر انګریز خبر ورته راغی چې ته هلته او سه او د وزیرو د مشرانو سره لیده کاته کوه. ځینو مشرانو ته نقدي بخششۍ ورکوه، چاته لونګۍ اخله او چاته نوي کالي ورکوه، تر څو په وزیرو کې ستا باور او اعتبار پیاوړی شي.

...سردار په وزیرستان کې ډیرې ورځې تیرې کړې چې د وزیرو مشران او خلک به ډلې ډلې ورته راتلل او د کابل د تخت د نیولو جلسې یې ګرمې روانې وې، خو یوه ورځ له هند څخه مشر انګریز سردار ته یو لیک راولیږه چې د پاکټ پر مخ د (خاص) کلیمه لیکل شوې وه. سردار پاکټ په بیړه خلاص کړ او چې تر پایه یې ولوست نو هغه نوکر یې له کوټې څخه وویست چې لیک یې ورته راوړی و، بیا یې خپله ټنډه په څپیړه ووهله. وکیل شیر محمد خان ورڅخه وپوښتل سردار صاحب ولې پریشانه شوې؟ سردار ځواب ورکړ: انګریز په لیک کې لیکلي دي چې د کابل له حکومت سره زمونږ مشکل حل شو او ستا وظیفه ختمه شوه، بیرته هندوستان ته راځه. بیا سردار وویل: د انګریزانو هدف زما له پاره د کابل د پادشاهۍ نیول نه وو بلکې زما په سر یې د کابل له حکومت سره خپل مشکلات حل کول او لازم سیاسي امتیازات یې واخیستل.» 5

که څه هم ښاغلي ببرکزي د هغه سردار نوم نه یادوي، خو زیاتوي چې هغه مهال چې د روسانو او د هغوې د پلویانو په خلاف د افغان مجاهدینو جهاد روان ؤ، زه د ملي اسلامي محاذ مشر پیر سید احمد ګیلاني د یو کال له پاره د کویټې تنظیمي دفتر ته ولیږلم. یوه ورځ یو سړي دفتر ته راغی او راته وې ویل سبا شپه ته سردار صاحب میلمه کړې یې، کله چې د سردار صاحب کور ته ورغلم نو په کور کې یو سپین ږیرې سړې ناست ؤ او ماته یې وویل: ته ببرک زی یې؟ ما ځواب ورکړ هو زه ببرک زې یم، نو پر مخ یې ښکل کړم او راته وې ویل: زه هغه سردار یم چې په وزیرستان کې ستاسې کورته درغلې وم. د ډوډۍ تر خوړو وروسته ما ترې وپوښتل: سردار صاحب اوس څه خیالات لرئ؟ ده وویل د افغانستان د تاج او تخت اصلي وارث زه یم، خو له بده مرغه زه اوس ډیر بوډا شوې یم. خو د خپل میراث دپاره مې ځوان زوې سردار تربیه کړې ځکه هغه د سیاست په علم کې لوړ تحصیلات سرته رسولي دي او پاکستان هم زما تر شا ولاړ دئ». 6

---

5 . غروال، محمد عارف. د غازیانو او اتلانو یاد، ۱۵۹-۱۶۰ مخونه.
6 . هماغه ځای، ۱۶۰-۱۶۲ مخونه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د خانداني حکومت او انګرېزانو د موږک او پيشو لوبه**

د کابل پر واکمنانو د فشار په غرض په ګاونډي هيوادو لکه بريتانوي هندبيا وروسته پاکستان کې د مرورو افغانانو ساتل او د ضرورت په وخت د هغوي استعمال يا د استعمال ګواښ کومه نوې او تازه خبره نه وه . وزيرستان ته د دغه سردار د راوستلو په شان داسې پيښې څو څو ځل تکرار شوي او اوس هم د تکراريدو په حال کې دي . له بلې خوا د پرديو پر مټ د کابل پر تخت کېنيول شوو واکمنانو هم وخت نا وخته خپلو شخصي او خانداني ګټو ته د خطر او ګواښ په صورت کې يا په چل ول د خلکو د تيرويستلو ، او يا هم په رښتيني د اعتراض، سرغړونې او سياسي قبلې د بدلولو هڅې کړې دي، او په اصطلاح د موږک او پيشو دا لوبه کومه نوې ننداره نه وه، او نه به وي . د دوهمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې د آلماني قواوو د بريالیتوب د احتمال په صورت کې د خانداني حکومت تدابير، په انګريزي الوتکو کې د سيمې نه د شامي پير دژونديو يستلو په سر د ولي نعمت نه خپګان او حتی د اصلاح په ورځپانه کې د سردار هاشم خان په اشاره د انګلستان د حکومت په وړاندې پاروونکي ليکنې او نور د دغه لوبې يو څو بيلګې دي.

**له وزيرستان څخه د ببرک خان ځدراڼ د کورنۍ وتل**

لکه چې يادونه وشوه د کابل د خانداني حکومت او انګرېزانو د ګډو هڅو په نتيجه کې زمرک خان که څه هم دې ته مجبوره شو چې د خپل تحرک نه لاس واخلي، خو بيا هم ترڅه وخته په وزيرستان کې پاتې شو. خو د وزيرستان په سرحدي مهمې سيمې کې د هغوي اوسيدل هم د خانداني حکومت او هم د انګريزانو د ګټو په خلاف وو. او د بريتانيا سره د خانداني حکومت پټو معاملواو ګډو هڅود هغو سيمو د اولسې خلکو ژوند د خطر او تهديد سره مخامخ کولو ، چيرې چې دوي اوسيدل. له همدې امله د اولسي خلکو د مرګ ژوبلې د مخنيوي له پاره د غازي ببرک خان ځدراڼ کورنۍ د وزيرستان پريښودلو ته اړ شول.

د ببرکزي د کورني اسنادو له مخې وزيرستان کې د درې کاله اوسيدو نه وروسته محمد ظاهر شاه د فضل خان ګيانخيل په وسيله دوې سره اړيکه ونيوله. دوې ته ډاډ ورکړ شو چې «ستاسو په قضيه کې يوه تيروتنه او سهوه وشوه، اوس ستاسو له پاره زما غيږه پرانيستې ده، تاسو کولاې شئ چې ټوله کورنۍ خپل وطن ته راستانه شئ» . زمرک خان ځدراڼ د خپلو ورونو سره مشوره وکړه. ځينو غوښتل د دغه وړانديز نه په ګټه اخيستلو بيرته خپل هيواد ته ستانه شي، خو خپله زمرک خان په حکومت د باور نه درلودو له امله د کابل د تګ سره موافقه ونکړه. په نتيجه کې زمرک خان د خپلو دوو ورونو ډګروال مامون خان او سيد اکبر خان ببرکزي سره بريتانوي هند ته لاړ او د آزاد سرحد نه لرې د ايبټ آباد په سرې سيمې کې ورته د استوګنې ځاې او خرڅ ورکړل شو.

(نور بيا )



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ